دکندهاردعامی روغتیا ریاست
داکترمامون (طاهری)دروغتیایی علوموانستیتوت

دعالی نرسنګ ښانګه

# په عقلی عصبی سیستم موثره دواګانی




Download from:aghalibrary.cm

لیکنه: استادمحمدظاهرمیوند(نسیمی)

کال ۱۳۹۷

# خوب راوړونکی ،مسکن اوداضطراب ضد درمل
# Hypnotic, Sedative, Anti-Anxiolytic Drugs

**مسکن درمل :-** مسکن درمل دهغه درملو څخه عبارت دی چی حرکی فعالیت کموی اودخوب له تولیدڅخه پرته ارامی منځته راوړوی دوی داضطراب ددرملنی لپاره هم استعمالیږی .

**خوب راوړونکی درمل:-** خوب راوړنکی درمل دهغه درملوڅخه عبارت دی چی خوب منځته راوړی (تولیداودوام) طبیعی لمسیدلی خوب سره ورته والی لری دوی دبی خوبی (دخوب دنشتولی ) ددرملنی لپاره استعمالیږی دانسانانوپه منځ کښي دخوب پایښت اوډول توپیرلری عمردخوب پرمقدار اوعمق مهمه اغیزه لری خوب په زړوخلګوکښی کمیږی خوب دبدن داستراحت ورکولولپاره ډیرضروری دی . انسان تقریباً خپل دژوند۱/۳ حصه په خوب کښي تیروی بی خوبی دناروغانودتعریف پراساس پربیدیدلو باندی دقدرت اوتوان نه درلودل یادناکافی خوب څخه عبارت دی دبی خوبی ټول ډولونه ودرملنی ته اړتیانلری کیدای شی چی دخوب څخه مخکی ګرم حمام کول . دشپی له طرفه دچای قهوی اوسګریټ نه څکول دخوب په درملنه کښی کومک کوی . امادوامداره اواذیت کوونکی بی خوبی دخوب دراوړونکودرملو(Hypnotic) په واسطه سره تداوی کیږی کوم وخت چی درمل تحویزضروری وی نوکوښښ باید وشی چی په کمترین ممکنه مقداراودلنډمودی لپاره (یوی هفتی کم وخت) درمل توصیه شی

## دمسکنو،خوب راوړنکواواضطراب ضد درملوصنف بندی

دا درمل په څلوروروپونوباندی ویشل شوی دی .

### Benzodiazepine :A

1. Diazepam
2. chlordiazepoxide
3. Flurazepam
4. Lorazepam
5. Oxazepam
6. Nitrazepam
7. Alprazolam

### Barbiturates :B

1) Phenobarbital
2) Pentobarbital
3) Secobarbital

داګروپ درمل دجانبی عوارضوله کبله دخوب راوړونکو،مسکن ضداصطراب درملوپه حیث نه استعمالیږی .

**C: نوی درمل**

Bozpiron
Zolpidem

**D: متفرقه درمل**

- chloral Hydrate
- Meprobamate
- Gutethimide
- Hydroxyzine
- promethazin
- Diphenhydramine

## دBenzodiazepine (BDZs) دګروپ مشتقات

داګروپ درمل دمسکن ،خوب راوړنکی اواضطراب ضددرملوپه حیث دمصرف ترینه درملودجملی څخه دی داګروپ درمل نسبت وباربیتورنوته ډیرمصؤن دی ځکه یی نودخوب راوړونکودرملوپه حیث دهغوځای نیولی دی تقریباً ددی ګروپ ۲۰ ډوله مختلف مشتقات په طبابت کی استعمالیږی .

## Pharmacokinetics

دبنزودیازیپین دګروپ درمل دخولی له لاری ترتطبیق وروسته په ښه ډول سره دهضمی جهازله لاری جذب اوټول بدن ته توزیع کیږی ددی ګروپ درملوداغیزی دوام مختلف دی دبعضوداغیزی دوام کم اودبعضوداغیزی دوام زیات دی .
مثلاً دDiazepam اوchlordiazepoxide داغیزی دوام زیات یااوږد دی ولی دOxazepam داغیزی دوام لنډ دی . دپلاسنتایی مانعی څخه تیریږی اودپښتورګوله لاری اطراح کیږی .
دبنزودیازیپین دګروپ درمل لاندی فارمکولوژیکی اغیزی منځ ته راوړی .

**۱: دعصبی سیستم داضطراب یاناارامی دکموالی اغیزی :-** په لږمقدارسره ددی درملوتطبیق داضطراب دکموالی سبب کیږی .
**۲: مسکن خوب راوړونکی اغیزی :-** دادرمل په کوچنی تره دوزونودتسکن داراملواوپه لوی تره دوزونودخوب سبب کیږی .
**۳: دتشنج ضداغیزی :-** ځنی بنزودیازیپینونه دتشنج ضداغیزی منځته راوړی اوپه عضلی تشنج کی استعمالیږی لکه دتیتانوس تشنج
**۴: انستیتک اغیزی :-** ځینی بنزودیازیپینونه لکه Diazepam دانستیزیاڅخه مخکی درمل (I.M) اودعمومی انستیزیادتولید لپاره (I.v ) استعمالیږی .
**۵: متفرقه اغیزی :-** ددوی اغیزی پرتنفسی سیستم اوقلبی اوعائی سیستم لږارزښت لری په لوړودوزونو دتنفسی انحطاط براډی کاډیااودوینی دفشاردکښته کیدوسبب کیدای شی دوی کولای شی دپیپتیک قرحاتوپه ناروغانوکښی دشپی له پلوه دمعدی دH.C.L ترشح لږ کړی .
chlordiazepoxide,,Diazepam اوOxazepam ددی ګروپ درملودنمائیدنه په حیث مطالعه کوو.

## indication

Diazepam دبی خوبی اواضطراب په کوتاه مدته درملنه دstatus Epileptics په حالت ،دالکولودپر یښودپه وخت کی همدارنګه دانستیزیاځخه مخکی درمل په ډول اودعمومی انستیزیادتولیدلپاره استعمالیږی oxazepam اوchlordiazepoxide زیاتره داضطراب په درملنه کی استعمالیږی

## contra indication

دا درمل دتنفسی انحطاط کی نه تطبیق کیږی تنفسی عدم کفایه همدارنګه دلیونتوب په ناروغیوکی ، دینی په عدم کفایه دحاملګی په دوران کی ، دشیدوورکونی په دوران کی ،مزمنوتنفسی ناروغیوکی اوپه الکولستانوکی باید په ډیراحتیاط سره تطبیق شی .

## side Effects

ددی درمل جانبی اغیزی دسرګیچی ،دماغی اختلال ،Hypotension دوینی تشوشات ،درویت تشوشی ،دادرار احتباس ،هضمی تشوشات ،دلعابیه غدواتوتشوشات اوvertigo څخه عبارت دی .

## مقدار Dose

Diazepam په اضطراباتوکی: - کاهلانوته 2mg دری واره دورځی ورکولای شوچی د درمل مقداردضروریت پراساس د5-10mg پوری لوړولای شو.

**بیخوبی چی اضطراب سره یوځای وی :-** کاهلانوته 5-15mg داستراحت په حالت کی توصیه کیږی کوچینان چه په پرله پیسی ځوشپی وپرونکی خوبونه وینی (Night terror ) اویادخوب په وخت کی پرلاری ځی یوازی دشپی لخوا1-5mg توصیه کیږی .

**فیبریل اختلاجات :-** چی دتبی څخه ناشی شوی وی 0,25mg/kg وزن دبدن دوریدی زرق یا 0,5mg/kg وزن دبدن دمحلول په ډول دریکتم له لاری توصیه کیږی .

**داختلاجاتود درمنلی لپاره :-** وکاهلانوته 10-20mg اوماشومانوته 0,5mg/kg وزن دبدن توصیه کیږی

**دپرمیډیکیشن لپاره :-** کاهلانوته 10mg اوکوچنیانوته 0,3mg/kg وزن دبدن دوریدی دلاری ورکول کیږی . د5mg- 2mg او10mg ټابلیټونه او2ml امپولونه چی 5mg/ml اغیزمن ماده لری دتجارت په بازارکی موجود دی .

**Chlordiazepoxide:-** کاهلانوته د10-25mg په ورځ کی 3-1 کسری دوزونوسره نظروناروغ ته فرق کوی ماشومانوته نه توصیه کیږی . دتجارت په بازارکی د5mg - 10mg او25mg ټابلیټونه په شکل موجود دی .

**Oxazepam: -** کاهلانوته 15-10mg دوه دانی دری واره دورځی توصیه کیږی نوموړی دواماشومانو ته نه توصیه کیږی دتجارت په بازارکی د15mg ټابلیټونوپه شکل موجود دی

## دBenzodiazepine انتاګونستونه
## فلومازنیل (Flumazenil )

فلومازنیددبنزودیازیپین یوانتاګونست دی چی په مسابقوی شکل دهغوپراخذوباندی اغیزه کوی که چیری دادرمل په هغوناروغانوکښی چی دبنزودیازیپین ترشدیداغیزی لاندی وی تطبیق شی د5 دقیقوپه موجوده کښی دنوموړی ناروغ دبیداره کیدوسبب کیږی .

### indication

ترعملیات وروسته دبنزودیازیپین اغیزودله منځه وړلوپه خاطردتشخیصه پروسیجرونوڅخه وروسته چی په هغه کښی دبنزودیازیپین لوړدوزږنه تطبیق شوی استعمالیږی .

### contra indication

دا درمل دژوندپه تهدیدونکوحملاتوکښی چی دبنزودیازیپین تردرملنی لاندی وی نه تطبیق کیږی .

### side Effect

دلبدی ،استفراق ،اضطراب ،حساسیت اوټاکی کاردیا .

### مقدار Dose

200 مایکروګرامه د15 ثانیوپه موده کښی دوریدله لاری وروسته دهری دقیقی په موده کښی 100 مایکروګرامه دضرورت په صورت کی ورکول کیږی معمول دوزیی 600-300 مایکروګرامه دی اواعظمی دوزیی 1mgدی

## نوی خوب راوړونکی اوداضطراب ضد درمل
## Buspiron اوZolpidem

که څه هم نوموړی درمل غیری بنزودیازیپین خوب راوړنکی درمل دی خودبنزودیازیپین دمربوطه اخذوپریوه برخه باندی اغیزه کوی اختلاج ضدیا عضلی رخاوت ورکونکی خاصیت نلری ددی درمل څخه د درمل دقطع اعراض نه دی لیدل شوی دبی خوابی بیرته راګرځیدل لږلیدل شوی دی . دنوموړو درملوڅخه د دوامداره استعمال په صورت کی تحمل لږیا هیڅ په وجودنه راځی دمعدی معائی لاری په چټکی سره جذبیږی ناګواره عوارض ویرونکی خوبونه ،ناارامی ،سردردی ،دمعدی معائی تشوشاتوګنګسیت اودورځی په جریان خوب الودګی .

## indication
داضطراباتوپه کوتاه مدته درملنه کښی استعمالیږی خوپه نظرکښی باید ولرو چی دهغه اغیزی کیدای شی دوی هفتی په برکښی ونیسی .

## contra indication
دحاملګی په دوران کی ،دشیدورکونکی په دوران کی ،په صرع یا میرګی .

**احتیاط :-** ددرملنی په جریان کی په ماشین باندی دکارکولوځخه باید پرهیزوشی دینی اوپښتورګوپه عدم کفایه کی په احتیاط سره توصیه شی .

## side Effect
سردردی ،ګنګسیت ،عصبانیت ،اودسردسپکوالی احساس .

## مقدار Dose
له اتلس کلنی څخه وغټ اشخاصوته 5mg دوه یا دری واره دورځی وروسته بیادهرودویادرووروځودتیرید وپه تعقیب د درمل مقداردارتیاپراساس زیاتیږی معمولی ورځنی مقدارد15-30mg دی .

## indication
دبیخوابی په درملنه کی استعمالیږی .

## contra indication
دا درمل په تنفسی اوعصبی عدم کفایه کښی اوهمدارنګه په وخیموکبدی اوکلیوی ناروغیوکی نه استعمالیږی اوهمدارنګه دحمل په دوران کی نه توصیه کیږی .

## side effects
ددی درملوجانبی عوارض Hypotension ،دخولی وچوالی ،بی حالی اوتنفسی انحطاط دی .

## مقدار Dose
ددی درمل ورځنی دوزکاهلانوته 0,5-2mg پوری دی .

## باربیتوریتونه (Barbiturates )

په پخوازمانوکښې داګروپ درمل یوازنی خوب راوړونکی درمل وه چې استعمالیدل خونن ورځ دهغوځای بنزودیازپیین دګروپ درملو نیولی دی . باربیتوریتونه سره له دی نن ورځ هم دصرع په درملنه کې لکه فینوقاربیټال اویاپه انسیزیاکښې لکه تیوپنتال استعمالیږی خودخوب راوړونکی درملوپه حیث دلاندی دلایلوله کبله نه استعمالیږی

۱: د درملنی اوسمی دوزونوترمنځ یی حدکم دی دسمیت اومرګ سبب ګرځی .

۲: زیاتره ناروغان ددی درمل څخه سؤاستفاده کوی اوداعتیادسبب کیږی اعتیاد اوفزیکی وابستکی تولیدوی چې دهغه درملنه مشکله ده .

۳: دینی دمایکروزمال انزایمونودتنبه سبب کیږی چې په نتیجه کې د درمل متقابل اغیزی تولیدوی .

## Anti- Histamine

یوتعداد انتی هیستامینوکونه لکه ډافین هیډرامین خوب راوړونکی اغیزی لری خوددی ترڅنګه زیات شمیرجانبی عوارض هم لری دا درمل دانتی هیستامینکونوپه برخه کې مطالعه کیږی .

### Hydroxyzine

اصلاًیوانتی هستامینک درمل دی خواراموونکی یا داضطراب ضداغیزه هم لری ډیرکم اعتیادتولیدوی معمولاً دکاهلانولپاره داضطراب ضد درمل په حیث د50-100mg په اندازه تطبیق کیږی .جانبی اغیزی اومضاداستطباب یی دنوروانتی هیستامینکونوسره مشابه دی اوپه خپل مربوطه فصل کښی مطالعه کیږی.

## دخوب راوړونکواواضطراب ضددرملوپه مقابل کی اعتیاد

په عمومي ډول سره ویلای شوچې که چیری هرخوب راوړونکی اوداضطراب ضددرمل اوږدی مودی لپاره استعمال شی د درمل وابستکی یا اعتیاد دمنځته راوړی که چیری درمل قطع کړل شی د درمل دقطع اعراض چې داعصابوداختلال ،اضطراب ،بی خوابی ،ناارامی اونوروڅخه عبارت دی رامنځته کیږی . په همدی خاطرپه هره بیخوابی اواضطراب کښی بایددا درمل تطبیق نکړل شی اوکوښښ بایدوشی چې اول بیخوابی اواضطراب دنورولاروطریقوپه واسطه سره تداوی کړل شی که چیری ددی درملو واستعمال ته خاصه اړتیاپیداشی نوپدی صورت کښی بایددرمل په کمترینه ممکنه مقداراودلنډترینه مودی لپاره توصیه کړل شی .

دبنزودیازیپین په یومعتاد کښی ددرمل ترپریښودلووروسته ددرمل دقطع سندروم یا اعراض کیدای شی چې د3 ورځوڅخه تر3 هفتوپوری راڅرکند شی .

## دBenzodiazepine درملودواعتیاد پریښودل

۱:مربوطه درمل ددی ګروپ دیوبل درمل ترجیحاDiazepam په مؤثره دوزسره دشپی له خواتبدیل کړل شی .

۲: دDiazepam دوزدی په تدریجی ډول سره په هرودویادروهفتوکښی د2-2.5mg پوری کم کړل شی .

۳: بهتره ده چه د درمل قطع په کراری سره اواهستکی سره صورت ونیسی .

۴: د درمل قطع په هغه دوزپوری چې شخص په هغه اخته وی اوهم په خپله په شخص پوری مربوط دی ممکن دڅلوروهفتوڅخه تریوکال پوری دوام وکړی .

## څلوروم فصل

# په دماغی ناروغیوکی مستعمل درمل

# Anti-Psychotic and Anti-Schizophrenic Drugs

۱: په دماغی ناروغیوکبنی مستعمل وصفی درمل
۲: په دماغی ناروغیوکبنی مستعمل غیری وصفی درمل

## ۱: په دماغی ناروغیوکبنی مستعمل وصفی درمل

1. chlorpromazine
2. Fluphenazine
3. Haloperidol
4. Loxapine

## indication

Chlorpromazine اوHaloperidol په شیزوفرینیااودجنون اومانیاپه نوروډولونوکبنی اوهمدارنګه نه په کنترولیدونکی استفراق اوراګرځیدونکی هکک کبنی داستفراق ضداوهکک ضد درمل په حیث سره استعمالیږی اوهمدارنګه Laxapine په مختلفه دماغی ناروغیوکبنی استعمالیږی اوFluphenazine مستعمل درملوپه حیث په تعقیبه درملنه کی استعمالیږی ځکه ددی درملویوزرق دری هفتی حتاپه یومیاشت کی کفایت کوی .

## side Effect

Hypotension اوهمدارنګهHypothermia ،دخولی وچوالی ،دپزی داحتقان ،Tachycardia ،قبضیت ،داداراحتباس ،دوزن زیاتوالی ،دحیض تشوشات ،Allergic Reaction اوGynecomastia ددی درملوجانبی عوارض دی

## contra indication

په هغه کوماکبنی چی دعصبی سیستم دانحطاطی درملودتطبیق له کبله منځته راغلی وی نه استعمالیږی . دحاملګی په دوران کی نه تطبیق کیږی په تنفسی ناروغیوکی ،په قلبی وعائی ناروغیو،Epilepsy حادو انتانانوکی دشیدو ورکولوپه دوران ،کبدی اوکلیوی عدم کفایه په وخت کبنی په ډیراحتیاط سره تطبیق شی

## Dose of chlorpromazine

کلورپرومازین کاهلانوته 75mg په واحددوزسره دشپی لخوایا 2-3 کسری دوزونوسره ورکول کیږی . دمؤسنوخلکوته دکاهل ددوزنصف دوزتوصیه کیږی . په حادوحالاتوکبنی دعمیق عضلی زرق په شکل کاهلانوته د25-50mg په اندازه توصیه کیږی . ماشومانوته ددی درمل مقدار0,5mg/kg وزن دبدن ورکول کیږی . دتجارت په بازارکی 25mg او100mg ټابلیټونه اوهم دشربتوپه ډول چه 5ml یی د25mg موثره ماده لری موجوداوهم یی امپول 2ml موجود دی چه یوملی لیتریی 25mg موثره ماده لری .

ګرامه فی کیلوګرام وزن دبدن ورکول کیږی .



میوندنسیمی

**Dose of Loxapine**

وکاهلانوته دورځی د25-50mg پوری ورکول کیږی اوداړتیاپه وخت کی دورځی د60-100mg پوری هم توصیه کیږی .

## په دماغی ناروغیوکښی مستعمل غیری وصفی درمل

په دی ګروپ کښی Risperidone، clozapine اویوتعداد نورودرمل شامل دی ددی درملوښوالی په دی کښی دی چه دناروغ په واسطه ښه تحمل کیږی اوخارج اهرامی اعراض یی کم دی خودنوروجدی جانبی عوارضوپه خاطرددی درمل استعمال محدودکړل شوی دی .

Clozapine فقط هغه وخت استعمالیږی چی نورمعمولی اووصفی درمل لکه chlorpromazine اودهغه مشتقات مؤثره نه وی ځکه clozapine ممکن داګرانولوسایتوزیرسبب شی ددی درملوتطبیق په قلبی په عدم کفایه ،شدیدوکبدی ،کلیوی اودوینی په ناروغیواوهمدارنګه حاملګی په دوران کی دشیدو ورکونی په دوران کښی مضاداستطباب دی

**Dose of clozapine**

وکلوزاپین ورځنی دوز50-300mg دی چی په منقسیمودوزونوسره ورکول کیږی لومړی ورځ 12,5mg یویادوه واره دورځی دوهمه ورځ 25mg یویادوه وار دورځی ورکول کیږی .

Dose of Risperidone

درپسپیریډون ورځنی دوز2-6mg دی چی په یوه یادوکسری دوزونوسره ورکول کیږی لومړی ورځ 2mg په یوه یا دوه کسری دوزونوسره دوهمه ورځ 4mg په یوه یادوه کسری دوزونوسره ورکول کیږی

## Anti-Depressant Drugs دخفګـــان ضددرمل

# Anti Depressant Drugs

| Tricyclic Anti Depressant (TCA) | | |
|---|---|---|
| **Drug Name** | **Dose** | **Drug Form** |
| Amitreptylin | 10-200mg | 10,25,50mg |
| Imipramin | 10-150mg | 10,25mg |
| Clomipramin | 12.5-150mg | 10,25,75mg |
| Dosulepin | 25-225mg | 25,75mg |
| Doxepin | 10-300mg | 10,25,50mg |
| Nortriptylin | 10-150mg | 10,25,50mg |
| Maprotylin | 25-150mg | 25,75mg |
| Trimipramin | 75-300mg | 25mg |
| **Selective Serotonin Reuptak Inhibitor (SSRI)** | | |
| **Drug Name** | **Dose** | **Drug Form** |
| Citalopram | 10-80mg | 10,20,30,40mg |
| Es-citalopram | 5-80mg | 5,10,15,20mg |
| Fluoxitin | 20-60mg | 20mg |
| Fluoxamin | 50-300mg | 50,100mg |
| Paroxitin | 10-50mg | 10,20,30mg |
| Sertralin | 50-200mg | 50,100mg |
| **Nor Adrenalin Reuptake Inhibitor (NARI)** | | |
| **Drug Name** | **Dose** | **Drug Form** |
| Endronax | 4-10mg | 4mg |

## ترایسکلیک (Tricyclic ) مشتقات

ددی ګروپ درملو لپاره دترایسکلیک اصطلاح یوغلط نوم دی ځکه داتول مرکبات دری کړیزنه دی ځینی دوه کړیزدی لکه اموکساپین اوځینی څلورکړیزدی .

## Pharmacokinetics

دغه درمل په اسانی دهضمی کانال دلاری دوینی دوران ته داخلیږی څرنګه چی په شحم کښي دانحلال ښه قابلیت لری نوله دی کبله په عصبی نسج کی په ښه ډول توزیع کیږی وروسته له هغه چی په کبدکی په استقلاب ورسیږی وبولی لاری څخه اطراح کیږی .

## دتاثیرمیخانیکیت

کله چی دعصبی حجراتوپه synapse کښی نیروترانسمیټرونه لکه Serotonine، Nor Adrenalin اوDopamine افرازشی یومقداردمربوطه اخذودتنبه سبب کرځی یومقداریی دMono-Amine-oxidase انزایم په ذریعه تخریبیږی اویومقداریی دهغه نیورونونوپذریعه کوم چی دنوموړی مونوامینونودافرازسبب کرځی دوباره خذبیږی مګرکله چی ناروغ ته Tricyclic مشتقات تطبیق شی دنیورونونوپه ذریعه دمونوامینودReuptake څخه مخنیوی کوی اوپه دی ډول په عصبی نسج کی دمونوامینونواندازه زیاتیږی اوپه ناروغ کښي دعصبی سیستم انحطاط حالت له منځه ځی دtricycle کروپ خینی درمل په لاندی ډول دی .

## امی تریپیتیلین یا Amitriptyline

### Indication

دDepression په درملنه کښی استعالیږی همدارنګه amitriptyline په نیوروپاتی دردونوکی هم تجویزکیدای شی داکروپ درمل په کوچنیانوکښی دenuresis یا دشپی ادرارکوی اوپه مؤسنوخلکوکښي دبولوپه نه کنترول کښي دخوب پرمهال ورکول کیږی اود6-3 هفتوپوری ادامه پیداکوی .

### contra indication

دزړه دعضلی احتشاء Epilepsy، Glaucoma، Cardiac Arrhythmia دشیدو ورکونکی په وخت کښی اوpregnancy په ناروغانوکښی په ډیراحتیاط سره تطبیق کړل شی .

### side effect

دخولی وچوالی ،دلبدی ،قبضیت ،تبول عسرت ، Hypotension، Tachy cardia ،خولی کول ،رعشه ،جلدی عکس العملونه یی جانبی عوارض دی .

### Dose

کاهلانوته ددورځی د50-75mg په 3-2 کسری دوزونوسره ورکول کیږی مګرومؤسنواشخاصوته دپورتنی مقدارنیمایی مقدارتوصیه کیری دتحمل په حالت دورځی 150-200mg توصیه کیږی ماشومانوته نه توصیه کیږی .

## ایمیپرامین یا Imipramine

ددی درمل ټول خصوصیات دAmitriptyline په ډول سره دی .

**کلومیپرامین_Clomipramin**

ددی درمل ټول خصوصیات اودوزد Amitriptyline په ډول سره دی .

## Mone-Amino oxidase Inhibitors

ددغه ګروپ درمل هم د Anti-Depressant درملو دجملې څخه دی .

## دتاثیرمیخانیکیت

دغه درمل په عصبی synapse کښې دمونوامینولکه Nor Adrenalin، serotonin او Dopamine دتخریب څخه دMono Amino oxidase دانزایم پذریعه مخینوی کوی یعنې نوموړی درمل د Mono Amino oxidase انزایم فعالیت نهې کوی اوپه دی ډول په عصبی نسج کښې دDopamine غلظت دزیاتوالی سبب کرځې اوپه دی ډول د Depression اعراض کمیږی

## Pharmacokinetics

دغه درمل دخولې دلارې تطبیق کیږی دکولمودجدارڅخه دوینې دوران ته جذبیږی له توزیع څخه وروسته په کبدکې په استقلاب رسیږی اودبولی سیستم دلاری دعضویت څخه اطراح کیږی .

## فینالزین یا Phenalzine

دغه درمل د Anti-Depressant درملو له جملې څخه دی دادرمل کیدای شي چې دانحطاط په هغوناروغیوکښې چې Tricyclic Anti-Depressant درملو ته ځواب نه ورکوی استعمال شی دوی په ځانګړی ډول دناځاپې اوبې جهته ویرې په بې نظمی کښې چې دانحطاط سره یوځای وی کټوردی چې د Depressant دناروغې په درملنه کښې استعمالیږی .

## contra indication

په کبدی ناروغیو،په کلیوی ناروغیوکې ،دحاملګې په دوران کې ،دشیدو ورکونې په دوران کې نه توصیه کیږی . په قلبی ناروغیو، Diabetes، Epilepsy اودوینې دلوحې په تشوشاتوکې په احتیاط سره تطبیق شی .

## side effects

کنکیست ،دخولې وچوالی ،سردردی ،قبضیت ،خستګی ،اذیما،شریانی هایپوتینین .

## Dose of Phenalzine

کاهلانوته دورځې 30mg په 1-2 کسری دوزونوسره ورکول کیږی دتحمل په صورت کې دروځې 60mg په 2 کسری دوزونوسره توصیه کیږی .

## Iso carboxazid

ددی درملوټول خصوصیات phenelazine په ډول سره دی .

## دسیروتونین ددوباره جذب انتخابی نهی کونکی درمل

## Selective Serotonin Reuptake Inhibitor (SSRI)

داګروپ درمل په انتخابی ډول ددماغ په نیورونونوکی دserotonin ددوباره جذب څخه مخنیوی کوی اودهغه سویه د synaps په مجاورت کښی زیاتوی دادرمل دترای سکلیک درملوبرعکس دنورادرینالین سویه یا اندازه نه زیاتوی . دسیروتونین ددوباره جذب انتخابی نهی کونکی درمل عبارت دی له Fluoxetine,paroxeten,sertraline,Fluvoxamin څخه

### Fluoxetine

### indication

په خفګان اووسواسه ،کی استعمالیږی .

### side Effects

په وینه کی دګلوکوزدسوی تغیرات ،دوبینتانوتوییدل ،هضمی تشوشات احساسیت

### Dose

په نظرکی باید وی که ناروغ مخکی ددماغی انحطاط ضد درملویعنی دمونوامینواوکسدیزنهی کونکی درملوتردرملنی لاندی وی درملنه په Fluoxetine سره باید دوی هفتی دنوموړودرملوتدقطع کیدو وروسته شروع شی اوبرعکس که دفلوکزیتین ترتداوی لاندی باید یوه هفته دهغه قطع کیدوڅخه تیره شی وروسته درملنه په مونوامینواوکسدایزنهی کوونکی درملوسره شروع کړی . په دماغی انحطاط کښی لومړی دغټانولیاره 20mg دورځی تطبیق کیږی ترمناسبی وقفی وروسته درمل مقداردورځی تر60mg پوری زیاتوب پیداکوی دادرمل وماشومانوته نه توصیه کیږی .

**مننه میوندنسیمی**

Download from:aghalibrary.cm